# د FoodShare برنامې غړي:

## کېدای شي تاسو د دې وړتیا ولرئ چې د **FoodShare** برنامې ډیر امتیازات ترلاسه کړئ که چیرې تاسو هغه طبي لګښتونه ولرئ چې تاسو يې له خپل جیب څخه تادیه کوئ.

(FoodShare Members: You may be able to get more FoodShare benefits if you have medical expenses that you pay out of your own pocket.)



- ☐ ایا تاسو د FoodShare امتیازات ترلاسه کوئ؟
- ☐ ایا تاسو 60 کلن یا له دې څخه زیات عمر لرئ، ړوند یا معیوب یاست؟
- ☐ ایا تاسو داسي طبي لګښتونه لرئ چې تاسو يې له جیب څخه تادیه کوئ؟

**که چیری دغه ټولو دریو پوښتنو ته مو ځواب "هو" وي، نو تاسو کولای شئ د FoodShare نور امتیازات ترلاسه کړئ.** دا له دې کبله چې تاسو کولای شئ د ځینو هغه پیسو لپاره کریډیټ ترلاسه کړئ چې تاسو یی په ځانګړو طبي لګښتونو کې مصرفوئ. دې ته د طبي لګښتونو د کسر ترلاسه کول ویل کیږي.

## لاندي د هغه طبي لګښتونو يوځو بېلګي دي چې په دې برنامه کې شاملې دي:



د نسخې له مخې درمل



بې نسخې درمل



د بیمې مخکنۍ تادیه



عینکې او د دید لینزونه

## نور بهرني خدمات ومومئ:

د ځینې طبي لګښتونو په راپور ورکولو سره د FoodShare امتیازاتو د ترلاسه کولو د څرنګوالي په اړه د معلوماتو لپاره د ځینو طبي لګښتونو په اړه راپور ورکړئ او د خپل سیمه ایزي نمایندګي سره د تلیفون، بریښنالیک، فکس یا مخامخ لیدلو له لارې په اړیکه کې شئ. **تاسو کولای شئ لاندې لینک ته مراجعه وکړئ او خپله سیمه ایزه نمایندګي ومومئ** **dhs.wi.gov/forwardhealth/imagency/index.htm**.

دا چې د طبي لګښتونو کسرې تادیه څنګه کار کوي په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره په آنلاین بڼه بشپړ لارښود وګورئ: **www.dhs.wisconsin.gov/publications/p03315b.pdf**.

**ایا تاسو اوس هم د FoodShare امتیازات نه ترلاسه کوئ؟** د امتیازاتو د غوښتنی لپاره څلور لارې چارې شته:

- **انلاین.** د لاندې ACCESS ویبپاڼې له لارې يې غوښتنه وکړئ **access.wi.gov**.
- **د تلیفون په واسطه.** د تلیفون له لارې د امتیازاتو د غوښتنې لپاره، خپلې سیمه ایزې نمایندګۍ ته زنګ ووهئ.
- **د پسټ یا فکس له لارې.** د پسټ یا فکس له لارې غوښتنه کولو لپاره ، خپل ځایی ایجنسی ته بشپړ شوی غوښتنلیک واستوئ.
- **په حضوري ډول.** په حضوري توګه د امتیازاتو د غوښتنې لپاره، خپلې سیمه ایزې نمایندګۍ ته مراجعه وکړئ. کېدای شي تاسو دې ته اړتیا ولرئ چې یو ملاقات تنظیم کړئ.

دا پروژه لږ تر لږه د U.S. Department of Agriculture (متحده ایالاتو د کرهنې وزارت) له فدرالي فنډونو لخوا تمویل شوې ده. د دې نشریې منځپانګې د U.S. Department of Agriculture (متحده ایالاتو د کرهنې وزارت) نظر یا پالیسي نه منعکسوي، او نه هم د سوداګریزو نومونو، سوداګریزو محصولاتو، یا سازمانونو یادونه ددې ښکارندویي کوي چې ګڼي دوی د متحده ایالاتو حکومت لخوا تایید شوي دي.